# لاربنود (ESL) د انګلیسي ژبې د زده‌کړې

صنفونه د نویو راغلیو لپاره ډېر مهم دي، څو خپلې ژبنی مهارتونه ښه کړي، اړیکې قوي کړي، او د کار موندنې فرصتونه زیات (ESL) د انګلیسي ژبې د زده‌کړې صنفونو لپاره نوم‌لیکنه وکړئ ESL کړي. دا لاربنود به تاسو سره مرسته وکړي چې د.

## خپلې لارې وپېژنئ

د انګلیسي ژبې د زده کړې (ESL) بېلابېل پروګرامونه شتون لري:

- **ټولنیزې کالجونه** –ډېر يې د لویانو لپاره ارزانه ESL ټولګي وړاندې کوي.
- **د لویانو د زده کړې مرکزونه** –ځايي ښوونځي ډسترېکټونه اکثره وړیا یا د ټيټ لګښت ESL پروګرامونه چمتو کوي.
- **غیر انتفاعي او ټولنیزې مؤسسې** –ځینې يې ځانګړي ټولګي د کډوالو او مهاجرو لپاره برابروي.
- **آنلاین ESL پروګرامونه** –مجازي ټولګي هم شتون لري، چې د انعطاف وړ زده کړې لپاره ښه انتخاب دی.

## د ESL ټولګي په خپله سیمه کې پیدا کړئ

لاندې سرچینې وکاروئ تر څو د انګلیسي ژبې د زده کړې پروګرامونه ومومئ:

- **USAHello**: وړیا آنلاین او حضوري ESL ټولګیو په اړه معلومات برابروي.
- **[National Literacy Directory](#)**: خپل محلي سواد زده کړې او ESL پروګرامونه پیدا کړئ.
- **عامه کتابتونونه**: ډېری کتابتونونه ESL ټولګي وړاندې کوي یا تاسو نږدې پروګرامونو ته راجع کولی شي.
- **ټولنیزې کالجونه**: د خپل سیمه‌ییز کالج ویب‌پاڼه وګورئ ترڅو ESL ټولګي ومومئ.
- **USAHello – FindHello**: یو وسیله چې تاسو سره مرسته کوي چې ESL ټولګي او نور ځايي خدمات ومومئ.
- **ESL Directory**: یو بشپړ لارښود د ESL پروګرامونو د لټون لپاره.
- **[2-1-1 Community Resources](#)**: د ټولنیزو خدماتو په اړه معلومات ورکوي، چې ESL پروګرامونه پکې شامل دي.

## د اړتیا وړ اسنادو برابرول

د نوم لیکنې (راجستر) څخه مخکې، ښايي تاسو ته لاندې اسناد وړاندې کول لازم وي:

- **پېژندپاڼه**: پاسپورټ، د ایالت پېژندپاڼه، یا بل کوم رسمي شناختي سند.
- **د استوګنې ثبوت**: د برق یا اوبو بیل، یا د کور کرایې تړون.
- **د مهاجرت اسناد**: لکه‌I-94 ، شنه کارت(Green Card) ، یا ویزه.(VISA)

## د ټولګیو لپاره نوم لیکنه وکړئ

- **د پروګرام سره اړیکه ونیسئ**: زنګ ووهئ یا د پروګرام دفتر ته لاړ شئ ترڅو د نوم لیکنې شرایط او مهال‌ویش معلوم کړئ.
- **فورمونه ډک کړئ**: اړین اسناد یا فورمونه ډک کړئ او وسپارئ.
- **ارزونې ازموینه**: ځینې پروګرامونه ښايي د کچې ټاکلو لپاره ازموینه واخلي.
- **تعرُفي غونډه**: که اړینه وي، د تعرُفي غونډې برخه واخلئ.

## خپلې ټولګي پیل کړئ

يو ځل چې نوم ليکنه مو وشوه، نو ټولګيو ته منظم ګډون وکړئ او هڅه وکړئ څومره چې کېدای شي ډېر انګليسي خبرې وکړئ.
په ټولنيزو فعاليتونو کې برخه واخلئ او د زده کړې اضافي سرچينو څخه ګټه واخلئ، لکه د ژبې اپليکيشنونه او آنلاين تمرينونه.

---

## اضافي سرچينې

- **د USCIS د لويانو د زده کړې سرچينې:**
  USCIS Citizenship Resource Center
- **ټولنيزې ملاتړ ډلې:**
  له نورو زده کوونکو سره اړيکه ونيسئ، انګليسي تمرين کړئ او دوستان جوړ کړئ.